# د ډاکټر راج ولي شاه خټک په کلام کښې معنوي ښکلا ګانې

**Semantical Aesthetics in the Poetry of Dr. Raj Wali Shah Khattak**

شريف الله خان خټک*

**Abstract:**

The well known great poet, writer, critic , researcher and intellectual of Pashto language and literature Prof Dr. Raj Wali Shah Khattak ( Jan 1952 – July 2015) was born at Dak Ismail Khel district Nowshera.He worked as director of Pashto Academy, University of Peshawar from 1995 to 2004, his contributions for Pashto literature are incredible and authentic. He wrote many books like Da Pukhto Adabi Tahreekona, Zeest Rozgar da Faqir Jamil Baig, Da Rahman pa sher, Rohi Mataluna, Pashtunwali, Da Rang awo noor shayer , Intruduction to Pashtun culture ,An Intangible Heritage, Sangzaar and Rohalogy ete, he also wrote more than sixty research articles,and has compiled more than hundred critical reviews on various books.Dr Raj Wali Shah Khattak had a vast study of eastern as well as western literature. He was also aware of Pashtun psychology. He tried their best to keep his nation active and aware by his unique, sweet and soft style of writing & speaking. He also concentrate on the literary and structural aesthetic of writing. In this article the semantical aesthetic aspect of Dr Raj wali shah poetry will be discussed.

**Key words** :Raj Wali Shah Khattak , Literary contributions , semantical aesthetic aspect of poetry.

پروفېسر ډاکټر راج ولي شاه خټک د پښتني وطن يو باشعوره، باتور، ملت پاله شاعر، اديب ، محقق، نقاد، دانشور ، مؤرخ، د ادب يو لوی پوهاند او يو شمله ور مشر وۀ ـ ډاکټر صاحب ډېره فراخه مطالعه لرله ـ د مشرقي علومو سره سره ئې د عربي نړۍ د ترقۍ او ښيرازۍ په راز ژور نظر درلودۀ ـ هغه د خپل پښتون ملت د فطرت نه هم ښۀ خبر وۀ ـ ځکه ئې د نظم هم د نثر په خپل منفرد او ځانګړي انداز کښې خوږه پسته او شيرينه ژبه د پښتون ويښ ساتلو شعوري هڅې او کوششونه کړي دي ـ بې شکه ډاکټر راج ولي شاه خټک د خپلې مورنۍ ژبې او ادب داسې خدمت کړی دی چې په ادبي نړۍ کښې ئې نوم لکه د نمر ځرکند دی ـ هغۀ په خپل ټول درې شپېتۀ کاله ژوند کښې شپاړس چاپ ، څلور ناچاپ کتابونه، په سوونو تحقيقي او تنقيدي مقالې ، په سوونو مقدمې او سريزې ، بلها د ريډيو او ټيلي ويژن او ريډيو پروګرامونو په شکل کښې يوه ډېره لويه او درانه پنګه پښتو ادب ته ورپېرزو کړې ده ـ

* PhD. Scholar, Pashto Academy, University of Peshawer

د سنګزار شاعرۍ څنګه وجود وموندو او وده ئې وکړه. په دې اړه راج ولي شاه خټک د دوو کسانو مننه کړې ده چې يو ئې د خپل سکول استاذ محترم اقبال شاه ياد کړى چا به چې په شعوري يا غېرشعوري توګه د سکول په زمانه کښې په دغه لار د ډاکټر راج صېب حوصله افزائي کوله. دويم ئې د ډاکټر راج ولي شاه خټک کليوال ، د وړوکوالي ملګرى دوست او يار پروفېسرډاکټريارمحمدمغموم خټک.

په ذکر شوي اثر سنګزار کښې چې مونږ ته دومره رنګا رنګ ګلونه او غنچې په نظر راځي. د هغې محرکات او اسباب د پښتو ادب د جديد دور د هغو ځلنده ستورو لوړ فکره مشرانو، قربت اثر دى. د چا په همنشينۍ کښې چې سنګزار د قامي شاعرۍ، د قام بېدارۍ، پښتون سوکالۍ، او پښتنې ټولنې د اصلاح رنګونه د اجمل بابا نه، د رومانيت او فلسفې وړانګې د غني خان ارتکاز، د عرفاني پلوشو پړقا په کښې د حمزه بابا عقيدت او ملګرتيا باندې دلالت کوي. د مقدار په ځاى د معيار سوچ د پښتو جديد ادب لوى نقاد قلندر مومند پرتو ښائي. ځکه سنګزار د ټولنې ثقافتي او کلتوري روزنه، تصوف، حکمت، بصيرت، رومانيت او فلسفې رنګونه شوخ دي. د دغه خبرو اقرار راج ولي شاه خټک په خپله هم کړى ليکي:

> " زۀ که سترګې غړوم رڼائي وينم او که سترګې پټې کړم هم ئې رڼا زما په ذهن خوره وي. هغه ستر غرونه چې زما فکر ته ئې رڼا هم بخښلې ده او زۀ ئې د شعر د صلاحيت هم قابل کړى يم. په ادبي دنيا کښې ئې د قدم کښېښودو همت راکړى هم حوصله او هم ئې په پښتو ودرولى يم ستر غني خان ، لوى شاعر او صوفي حمزه شنواري او ګران قلندر مومند دي"(۱)

د سنګزار شاعري هم مقصدي ده هم ډېره رنګونه لري. ځکه چې شاعر په کومه ادبي زمکه شباب ته رسېدلى دى. د هغې تړون او جوړښت تر کلاسېک رنګونو غزېږي. په سنګزار کښې مونږ ته ټولنيزې، قامي، اصلاحي، روحاني، تصوفي او روماني کرښې ډېرې په بلانګه په نظر راځي. د شاعرۍ دغه متنوعه برخې په تول پوره ښکاري.

ډاکټرصېب چې د شعر په شعريت او د ښۀ شعر په روح ښۀ خبر او برلاسى وو. ځکه ئې د سنګزار په څېر پښتو ادب ته داسې بېلګه ډالۍ کړې چې هر يو شعر او صنف ئې نۀ يوائې د ښکلا او زړۀ راښکون نخښې لري بلکې د شعري ادب په معياري اثارو کښې شمارل کېږي. په سنګزار کښې مونږ ته شعر ډېر هنري اړخونه په نظر راځي. ډاکټر صېب د شعر ټول اصناف ډېر په هنر او په ډېر سم ځاى راوړي. او د شعر ګلورين بدن ئې پرې نور هم ماه جبين کړى دى. کوم چې د لوستونکي احساساتو او جذباتو ته نوره هم تندي او چستي بخښي. لوستونکي په خپل ځان کښې مستغرق کوي. شلمه پېړۍ د علم و فن پېړۍ شمارل کېږي. په دغه پېړۍ کښې نوي نوي علمونه رابرڅېره کړى شول او هم لګيا دي رابرڅېره کېږي. د تخليق ، تحقيق او تنقيد نوې نوې زاوئې وضع شوې. د علم و فن زړه پنګه د

نوي تحقیق او تنقید په اساس و سنجولی شوه ـ دلته په دغه لیک کښې مونږ د راج ولي شاه صېب د شاعرۍ فني اړخ څېړو ـ

علم بدیع د شعري تنقید اصطلاح ده ـ چې د کلام ښائست پرې معلومېږي ـ یعني علم بدیع هغه علم دی که چرې هغه په یو کلام کښې په کار راوستی شي نو په کلام کښې به حسن او ښکلا پېدا شي ـ څنګه چې د یوې ناوې ښکلا او زېبایي په کالي پټري کېږي ، دغه شان په کلام کښې ارائش ، زېبائي او ښکلا د علم بدیع په اساس راوړلی شي ـ پروفېسر انور جمال د علم بدیع په حقله لیکي:

"یہ شعری تنقید کی ایک اصطلاح ہے۔ کلام خصوصاً شاعری میں دلاویزی اور خوبصورتی پیدا کرنے کے ذرائع کو بدیع کہتے ہیں۔ یہ ذرائع تخلیق شعر کے وہ ایجنٹ ہیں جو کلام کو خوشنما بناتے ہیں اور ذوقِ سلیم پر نہایت خوشگوار اثر چھوڑتے ہیں۔۔۔علم بدیع وہ علم ہے جس میں کلام کی خوبیوں سے بحث کی جاتی ہے۔" (۲)

**ژباړه** :دا د شعري تنقید اصطلاح ده ـ په کلام کښې په خاصه توګه په شاعرۍ کښې زړۀ راښکون او ښکلا پېدا کولو وسیلو ته بدیع وئیلی شي ـ دا وسیلې د شاعرۍ هغه استازي دي چې کلام ښکلی کوي او په ذوق سلیم ډېر ښکلی اغېز اچوي ـ ... علم بدیع هغه علم دی چې په هغې کښې د کلام په خوبیانو بحث کولی شي ـ

پروفېسرډاکټرجاوېدخلیل په خپله مقاله کښې لیکلي.

"لکه څنګه چې په خوراک کښې مالګه ضروري وي دغه شان د بدیع صنائعو شته والی هم د کلام په ښکلا او حسن کښې مهم رول لوبوي ـ لکه څنګه چې په خوراک کښې مالګه په مناسب مقدار استعمالول په کار وي چې خوراک ډېر مالګین نۀ شي هم دغسې د بدیع صنائعو د استعمال سرحد پېژندل ډېر ضروري دي ـ چې د کلام په حسن ، ښکلا او خوږ والي اثر پرېباسي ـ" (۳)

دغه محاسن په دوه قسمه دي ـ لفظي صنعتونه او معنوي صنعتونه ـ راج ولي شاه خټک د بدیع دواړه قسمونه په خپله شاعرۍ کښې استعمال کړي دي ـ یعني د خپل کلام زېبائي ، ښائست او ښکلا سېوا کولو کښې مدد ترې اخستی دی ـ یاده دې وي چې دغه صنعتونه راج ولي شاه خټک په ارادي نه بلکې د خپل علمي لوړتیا له کبله په غېر ارادي او فطري توګه راوړې چې د کلام خوند او مزه ئې یو په دوه کړې ده ـ دلته په دغه لیک کښې د کلام معنوي صنعتونو یا ښکلا ته کتنه کوو ـ

**معنوي صنعتونه یا معنوي ښکلاګانې**:

په کلام کښې د معنې په اساس جذبیت، حسن او ښکلا پېدا کولو فن ته معنوي صنعت، ښکلا یا صنائع معنوي وئیلی شي ـ یا په نورو ټکو کښې داسې وئیلی شو چې د علم بدیع هغه فن چې د معنوي ښائست په اساس د کلام خوبیانو سره بحث کوي ـ د صنائع معنوي ډېر قسمونه دي ـ خو دلته مونږ هغه قسمونه د بحث لاندې راولو چې د راج ولي شاه خټک په کلام کښې شتون لري ـ

**صنعت تضاد یا طباق**:

په شعر کښې دوه داسې لفظونه راوړل چې معنې ئې د یو بل متضاد وي علم بدیع کښې ورته صنعت طباق یا صنعت تضاد وئیلی شي. لاندیني شعرونه د صنعت طباق یا صنعت تضاد ښکلې نمونې لري لکه " سبائي " بېګائي ، دروغ " رېښتیا ، وصل " هجر ، دسود " زیان ، دروغ " رشتیا ، شپو " ورځو ، تېرې " د رڼا.

سبائي په مخه راغله بېګائي په مخه راغله
که رڼا وه که تیارۀ وه رسوائي په مخه راغله(۴)
ماته قاصد چرې دروغ او نۀ وې
تاته رېښتیا خبره تل نۀ کوي (۵)

تاؤ د وصل، که نا ،تاؤ د هجر زیات دی
چې راګرځي سحر څۀ ته افتاب ګرځي (۶)

چې هر کار د دوکاندار په نظر ګوري
ددنیا دسود او زیان سره په جنګ یم (۷)

نۀ دروغ شم نۀ رشتیا درته وئیلی
زما مینه دې دا ستا پۀ زړۀ الهام شي (۸)

څۀ مطلب د ژوند د شپو او ورځو نه
پوئ نۀ شوم په بد باندې په ښۀ باندې (۹)

ګرم جوشي شوه له دې ښاره ورکه
بازار که تود دی خو ساړۀ خلق دي (۱۰)

ستا د زلفو او د مخ په مخ اباد شوم
د تېرې او د رڼا ځینې ازاد شوم (۱۱)

**صنعت ایهام**: په شعر کښې داسې خبره کول ، داسې لفظونه راوړل چې دوې معنې ترې اخستی شي. یوه نزدې او بله لرې. اکثر د شاعر مقصد هغه لرې معنی وي کومې ته چې ذهن زر نۀ رسي ، صنعت ایهام وئیلی شي. لکه شاعر وائي اګر چې ستا دیدن ته ډیره فاصله ده بیا هم ستا یاد زما مشغله ده خلق ترې ډائریکټ د یار کور فاصله مطلب اخلي او شاعر ترې خانه کعبه یا ګنبد خضرا. په دغه بل شعرکښې عام لوستونکې محبوب ته محاطب کیږي او د شاعر مراد ترې د الله پاک ذات دې.

ستا یادونه زما ښکلې مشغله ده
که دیدن ته دې بې حده فاصله ده (۱۲)

دا چې تۀ پرې وړاندې تلی نۀ شې ایسار شوې
په دا لاره کښې د چا وران شوی پل دی (۱۳)

په پته پوې نۀ یم که نۀ پوهېږم
زړۀ کښې مې اوسې راته پته نشته (۱۴)

**لف و نشر** :

د لف لغوي معنی ده: راغونډول. او د نشر لغوي معنی ده: غوړول، خورول. په شعر کښې د څو څیزونو یو ځای ذکر کولو نه پس داسې نور څۀ څیزونه ذکر کول چې د اول سره ئې مناسبت او مطابقت وي. صنعت لف و نشر بللی شي. وړومبی برخې ته لف او چې مطابقت پېدا کوي ، ورته نشر وئیلی شي. پروفېسر انور په حقله لیکي :

"لف ونشر سے مراد لپیٹنا اور پھیلانا ہے۔ کلام میں پہلے چند چیزوں کا ذکر کرنا (لف) اور اس کے بعد ان چیزوں کو باترتیب یا بے ترتیب بیان کرنا (نشر) لف ونشر کہلاتا ہے۔ لف ونشر صنعتِ کلام ہے۔ جس سے سماعت پر ایک خاص آہنگ کی ضرب پڑتی ہے۔ جس سے لطافت وجمال پیدا ہوتا ہے۔" (۱۵)

**ژباړه**: د لف و نشر نه مراد ویړول او غوړول دي. په کلام کښې وړومبی د څو څیزونو ذکر کول (لف) او دې نه پس د هغه څیزونو په ترتیب یا بې ترتیبه بیانولو (نشر) ، ته لف و نشر وئیلی شي. لف و نشر هغه صنعت دی چې د هغې په اورېدو داسې یو خاص اهنګ محسوسېږي چې اورېدونکي ته جمال او لطافت بخښي.

سترګې دې وې، زلفې دې وې، شونډې رخسارونه وو
زۀ لکه ماښام او شپه، سحر او غرمه یون شومه (۱۶)

**لف و نشر مرتب**: کله چې په شعر کښې اول د یو څو څیزونو ذکر وشي بیا ورپسې په په ترتیب سره د نورو څو څیزونو ذکر د مطابقت په طور وشي، لف و نشر مرتب بللی شي. یا کله چې شعر په وړومبی

مصرعه کښې د دوو یا زیاتو څیزونو ذکر کول او بیا په دوېمه مصرعه کښې په شمیر کښې د هغې متعلقه څیزونو ذکر په ترتیب سره راتلل لف و نشر بللی شي. لکه د راج ولي شاه خټک په لاندېني شعر کښې په وړمبۍ مصرعه کښې اول د "عمر" ذکر او په دوېمه مصرعه کښې متعلقه ټکی "لنډ" راغلی، بیا په اوله مصرعه کښې دوېم ټکی "د زلفو سلسله" او په دوېمه مصرعه کښې متعلقه ټکی "اوږده" راغلی. د شعر په ټکو کښې یو خاص ترتیب په نظر راځي چې د لف و نشر ښکلې نمونه ده:

زما عــمر ســتا د زلــفو ســلسله شـوه
که هـر څـو مـې ساه وه لنډه خو اوږده شوه (۱۷)

دغه رنګ په لاندېني شعر کښې په وړمبۍ مصرعه کښې اول د " تور" ذکر او په دوېمه مصرعه کښې متعلقه ټکی "شپه" راغلی، (توره شپه) بیا په اوله مصرعه دوېم ټکی "سپین" او په دوېمه مصرعه کښې متعلقه ټکی "سبا" راغلی. (سپین سبا)

دا د تور او سپین قیصه به داسې پاتې کېږي نا
شپه په لاره هم راځـي او هـم سبا په لاره کښې (۱۸)

**حسن تعلیل**:

په شعر کښې د خوند ، جاذبیت، لطافت او باریکۍ پېدا کولو دپاره داسې لفظونه راوړل چې په اصل (حقیقت) کښې د هغه خبرې سره څۀ تعلق نۀ وي. یعني د هغه خبرې سبب نۀ وي. لکه

دا دشـپې سـینه په څـۀ شـلېږي سحر شي
په اهونو فـریادونـو که پـو هـېږې (۱۹)

په دې شعر کښې شاعر وائي چې د شپې ختمېدل زما د اهونو او فریادنو نتیجه ده. حالانکې د شپې چودېدو سره د اهونو او فریادونو څۀ قسم نسبت نشته.

**صنعت جمع**:

په شعر کښې چې کله ګڼ څیزونه د یو حکم لاندې راوستی شي ، صنعت جمع بللی شي. لکه په لاندیني شعر کښې مـــۍ ،ســپوږمۍ، مـینه، ګُلونه ، رنګ

مـۍ سـپوږمۍ، مـینه، ګُلونه رنګ دزرو
رنـګ د رنـځ د دوکانـدارو سـرمایه شوه (۲۰)

چـې سـرور لـري دمـۍ تاثـیر د زهـرو
د نـظر په فـرېبُونـو که پـوهېږې (۲۱)

**صنعت مراعات النظیر**: په شعرکښې د داسې لفظونو استعمال چې هېڅ تضاد په کښې نۀ وي. صرف مطابقت (مناسبت) لرونکي او د یوې سلسلې وي. صنعت مراعات النظیر ورته وئیلی شي. یا په شعر کښې داسې ټکي راوړل چې نۀ متضاد وي نۀ مترادف وي. خو صرف یو تړون وي په کښې. په لاندې شعر کښې دغه ټکي چې نۀ متضاد دي او نۀ مترادف خو یو تړون ضرور لري: رقص ، ساز ،پنزېب او شرنگ:

رقص وو، تاوېدم خو پوهېدمه نه
ساز ته د پېنزېبو شرنگ کښې اودرېدم(۲۲)

**صنعت ارسال المثل**:

په شعر کښې د یو متل په خاص طریقه ذکر کولو ته ارسال المثل وئیلی شي. یا د فصاحت او بلاغت په خاطر په شعر کښې متل یا د متل څو ټکي راوړل ، صنعت ارسال المثل بللی شي. لکه متل :زړه نه زړه ته لار وي دلته راوړل شوې دې.

مینه هسې یو سودا ده د بې کوره ارمان
نشته زړۀ نه زړۀ ته لاره زۀ یوازې یمه (۲۳)

**صنعت عکس و تبدیل**:

په شعر کښې څو ټکي یو ځای راوړل بیا په هغه شعر کښې دغه ټکي په اپوټه ترتیب راوړل ته صنعت عکس و تبدیل وئیلی شي. لکه په لاندې شعر کښې " تۀ په ما "ـــ " زۀ په تا ".

نۀ تۀ په ما پوهېږې او نۀ زۀ په تا پوهېږم
مونږ دواړه تېره وو داسې په اور کښې تنهایي (۲۴)

**صنعت مزاوجه**:

" په شعر کښې دوې متضادې خبرې کول. او په دغه دواړو خبرو داسې ذومعني شرط لګول چې په دواړو صحیح لګي. صنعت مزاوجه بللی شي" (۲۵). یا په نورو ټکو کښې داسې وئیلی شو چې په شعر کښې دوې داسې خبرې کول چې د یوې څۀ نتیجه وي د بلې هم هغه نتیجه وي یا په شعر کښې دوې داسې خبرې کول چې د هرې یوې سره شرط تړلی وي. لکه لاندې شعرکښې شاعر وائي ستاد در او د مقتل لاره یوه ده.

ستا د در او د مقتل لاره یوه ده
په دا لار ګلونه ږدو پوهېږونه (۲۶)

**تنسیق الصفات**:

په شعر کښې د یو څیز پرله پسې صفتونه (ګڼ صفتونه) بیانولو ته تنسیق الصفات وئیلی شي.

ماپه خوشبو کښې که په رنګ کښې کسې

زۀ چې ورمه د نوبهار شومه (۲۷)

**سهل ممتنع**: سهل په عربۍ کښې اسان ته وئيلی شي او ممتنع ګران ته وئيلی شي. خو په ادبي اصطلاح کښې ئې پروفېسر فضل مير خټک داسې راپېژني:

(سهل ممتنع) " هغه شعر ته وئيلی شي. چې په اورېدو يا لوستو خو ئې هر څوک ووائي چې داسې خو به زۀ هم وليکم. خو چې ليکلو ته ئې کښېني نو ونۀ کړی شي. يعني په ليدو اسان وي خو په اصل کښې ګران وي. بله غټه خوبي او صفت ئې دا هم دی چې لکه د نثر لګي خو نثر وي نه. يعني د الفاظو ترتيب ئې داسې وي لکه نثر. ځکه چې که نثر کښې بدل کړی شي نو ډېر فرق په کښې نۀ راځي. لکه د رحمان بابا شاعري" (۲۸)

د سهل ممتنع په حقله پروفېسر انور جمال ليکي:

"یہ شعری اظہار کی اصطلاح ہے۔ ایک ایسا شعر جو اس قدر اسان لفظوں میں ادا ہو جائے کہ اس کے آگے مزید سلاست کی گنجائش نہ ہو، سہل ممتنع کہلاتا ہے۔ --- سہل ممتنع کی خاصیت رکھنے وال شاعری تاثیر کی قوت اور تادیر زندہ رہنے کی صلاحیت رکھتی ہے۔ سہل ممتنع شعری اظہار کا سادہ ترین پیرایہ ہے۔" ۔(۲۹)

**ژباړه**: د د شعري اظهار اصطلاح ده. يو شعر په داسې اسانو لفظونو کښې ادا کول چې په دې نه نورو اسانو لفظونو کښې ادا کېدی نۀ شي، سهل ممتنع بللی شي. --- د سهل ممتنع لرونکې شاعرۍ اغېز قوتناک او تر ډېره وخته باقي وي. سهل ممتنع د شعري اظهار ساده پېرايه ده.

که هر څو د رژېدلو ګلو هار يم
ستا دغاړې د اوربل پاتې يادګار يم (۳۰)

د شپې ئې داغ د زړونو نه ښکارېدو
دګلو زخم خولې سحر و سپړدې (۳۱)

د خپل وجود په تاؤ به پايم ولې!
په زړۀ مې پروت د چا انځور اور شو (۳۲)

نوم به دې زۀ په ديوال وليکمه
ورسره څۀ په ديوال وليکمه
تۀ دُنيا پېژني، مانۀ پېژني
درته به سرۀ په ديوال وليکمه
زماله حاله به خبر شې که نا

ځنګه مې زړۀ په دېوال ولیکمه
تۀ دخپل زړۀ له کوره نۀ راوځې
ورک به دې وړۀ په دېوال ولیکمه (۳۳)

زۀ په هــــواره لاړ هــم تــلی نــشم چې تــا یــادوم
تۀ راســره وې اؤ نــشه وه نــو مــا څــۀ کــړی وی(۳۴)

سترګې مې پټې کړې غوږونو کښې مې ګوتې ورکړې
چا چې کوله ستا قــیصه وه نــو مــا څــۀ کړی وی(۳۵)

**صنعت تدبیج** :

د تدبیج لغوي معنی ده : ښائسته کول۔ په اصطلاح کښې په شعر کښې د رنګونو ذکر کولو ته تدبیج وئیلی شي۔ په شعر کښې د حسن پېدا کولو په خاطر د رنګونو ذکر د کنایې په طور کېږي۔ راج ولي شاه خټک د سنګزار پاڼې د بدیع په دغه صفت ګلورینې کړې دي: سور،شین ، زېړ ګلونه، سرۀ ګلونه، تور او سپین وغیره۔

د سرو شونډو رنګ پۀ سرو ګلو کښې خور وو
تور باڼه ئې پۀ ازغو کښې نمایان وۀ
شین سپرلی د چاپۀ غونډه زنه خال وو
سور شفق د کومو سرو سترګو غماز وو (۳۶)

زېړ ګلونه، که غربت که نری رنځ دی
سرۀ ګلونه که د کوم زړګي ارمان دی (۳۷)

دا د تور او سپین قیصه به داسې پاتې کېږي نا
شپه په لاره هم راځــي او هــم سبا په لاره کښې (۳۸

اوس د تورو ســــترګــو د تــور څۀ ویره
اوس ولي سپین ږیری اؤ سپین سری شو(۳۹)

## حوالې

(۱) خټک، راج ولي شاه، سنګزار، اول چاپ، مخ **۹.**
(۲) انورجمال،پروفېسر، ادبي اصطلاحات، مخ **۵۱.**
(۳) -خلیل،محمدجاوید ،دخوشال خټک په شاعرۍ کښې صنائع و بدائع،مشموله:درې میاشتې پښتو اپریل- جون ۲۰۰۶پښتو اکیډمي پېښور،جلد ۳۶، ،مخ۱۲۹
(۴) خټک، راج ولي شاه، پروفېسر، ډاکټر، سنګزار، مخ **۲۱.**
(۵) همدغه، مخ **۲۵.**
(۶) همدغه ، مخ۳۱ -
(۷) همدغه ، مخ ۴۵
(۸) همدغه ، مخ ۴۹
(۹) همدغه ، مخ ۱۵۸
(۱۰) همدغه ، مخ ۱۶۲
(۱۱) همدغه ، مخ ۱۰۲
(۱۲) خټک، راج ولي شاه، پروفېسر، ډاکټر، په ډائري لیکلې شعر
(۱۳) خټک، راج ولي شاه، پروفېسر، ډاکټر، سنګزار ،مخ **۳۵.**
(۱۴) همدغه ، مخ ۱۷۹
(۱۵) انورجمال،پروفېسر، ادبي اصطلاحات، مخ **۱۵۱**
(۱۶) خټک، راج ولي شاه، پروفېسر، ډاکټر، سنګزار ، مخ **۶۲.**
(۱۷) همدغه ، مخ ۷۱
(۱۸) همدغه ، مخ ۷۳
(۱۹) همدغه ، مخ ۷۳
(۲۰) همدغه ، مخ ۷۱
(۲۱) همدغه ، مخ ۱۱۲
(۲۲) همدغه ، مخ ۶۵
(۲۳) همدغه ، مخ ۱۴۱
(۲۴) همدغه ، مخ ۳۶
(۲۵) خټک ،فضل میر، فضلیات، حیات بک ډپو کرک، **۱۹۹۹**ء، مخ **۳۸۵.**
(۲۶) خټک، راج ولي شاه، پروفېسر، ډاکټر، سنګزار، مخ **۴۷.**
(۲۷) همدغه ، مخ **۱۲۷**

۲۸) ختټک،فضل میر، فضلیات، حیات بک ډپو کرک، **۱۹۹۹**ء، مخ **۲۴۵**۔
۲۹) انورجمال،پروفېسر، ادبي اصطلاحات، مخ ۱۲۰
۳۰) ختټک، راج ولي شاه، پروفېسر، ډاکټر، سنګزار، مخ **۲۲**۔
۳۱) همدغه ، مخ ۳۸
۳۲) همدغه ، مخ ۳۸
۳۳) همدغه ، مخ۴۴
۳۴) همدغه ، مخ ۳۸
۳۵) همدغه ، مخ ۳۸
۳۶) همدغه ، مخ ۵۳
۳۷) همدغه ، مخ ۵۳
۳۸) همدغه ، مخ ۷۳
۳۹) همدغه ، مخ ۸۹